دغه قوانین د کارګر د کډوالۍ حالت یا د شبکه یي شرکت موقعیت ته له پام پرته د کارګرانو ساتنه کوي. شبکه یي شرکتونه باید له دغو قوانینو سره سمون ولري. غچ اخیستنه غیرقانوني ده.

Seattle Office of Labor Standards

# د اپلیکیشن پر بنسټ کارګرانو لپاره د حقونو خبرتیا

دغه خبرتیا باید د شبکه یي شرکت په آنلاین اپلیکیشن یا پلټفارم کې په انګلیسي او په هغه ژبه چې کارګر پرې خبرې کوي شته وي.

## دا قوانین پر چا باندې عملي کېږي؟

هغه د اپلیکشن پر بنسټ کارګران چې په سیاټل کې تر پوښښ لاندې داسې **شبکه یي شرکت** سره کار کوي چې په ټوله نړۍ کې لږ تر لږه 250 پر اپلیکیشن ولاړ کارګرانو لپاره کار اسانه کوي. تر پوښښ لاندې شبکه یي شرکت:

- پېرودونکي د اپلیکیشن پر بنسټ کارګرو سره د نښلېدو لپاره انلاین اپلیکشنونه یا پلټفارمونه کاروي؛
- د اپلیکیشن پر بنسټ کارګرو ته وړاندیزونه ورکوي او یا
- د اپلیکیشن پر بنسټ کارګرو په وسیله د معاش په مقابل کې د خدمتونو وړاندې کول اسانه کوي.

"د کار ځای شبکه یي شرکتونه" چې په اصلاً مخکې له مخکې ټاکل شوي وړاندیزونه وړاندې کوي، پیرودونکو ته اجازه ورکوي چې د اپلیکیشن پر بنسټ کارګرو سره د کار په اړه معلومات تبادله کړي، د اپلیکیشن پر بنسټ کارګرو ته اجازه ورکړي چې خپل نرخونه وټاکي او د مایلج او وخت له مخې وړاندیزونه نه ځاري او تر **پوښښ لاندې نه دي.**

د سیاټل د اپلیکیشن پر بنسټ د کارکوونکو مقررات د ترانسپورټ شبکې شرکتونه (رایډشییر) موټرچلوونکي تر پوښښ لاندې نه راولي.

# د اپلیکشن پر بنسټ کارګرو لپاره لږ تر لږه اداینه

د اپلیکشن پر بنسټ کارګرانو ته حق ورکوي چې د "پر کار بوختیا وخت" او "طی شویو مایلونو" لپاره لږ تر لږه پیسې ترلاسه کړي.

## پر کار د بوختیا وخت

### د شبکې پر تقاضا ولاړ شرکتونه یا پر تقاضا ولاړ وړاندیزونه:

- هغه مهال پیلیږي چې د اپلیکیشن پر بنسټ کارګر وړاندیز ومني.
- هغه مهال پای ته رسیږي چې کارګر وړاندیز بشپړ کړي، وړاندیز لغوه شي یا هم کارګر د یوه دلیل له مخې وړاندیز لغوه کړي.

### نور ټول شبکه یي شرکتونه یا وړاندیزونه:

- هغه مهال پیلیږي چې د اپلیکیشن پر بنسټ کارګر کار پیل کړي یا په وړاندیز کې بیان شوي موقعیت راپور ورکړي.
- هغه مهال پای ته رسیږي چې کار بشپړ شي، وړاندیز لغوه شي یا هم کارګر د یوه دلیل له مخې وړاندیز لغوه کړي.

# طی شوي مایلونه

پر کار بوختیـا وخت پـه بهیر کې طی شوي مایلونه

## د هر وړاندیز پر سر لږ تر لږه پیسې

د لږ تر لږه ادایني نرخ هر کال بدلیږي، QR کوډ سکن کړئ یا دلته کلیک وکړئ تر څو اوسنی نرخ ومومئ

که یو وړاندیز په Seattle کې پیل شي، نو کارګر ته د پر کار بوختیـا ټول وخت او طـی شویو مایـلونو لپاره لږ تر لږه پیسې ورکول کیږي. که یو وړاندیز په Seattle کې پیل نه شي، خو په Seattle کې د کار پورې اړوند ځینې تمځایونه یا خدمتونه پکې شامل وي، لږ تر لږه اداینه یا پیسې یوازې د Seattle ښار حدودو کې پر کار بوختیا وخت او طـی شویو مایـلونو لپاره عملي کیږي.

**"د شبکې پر تقاضا ولاړ شرکت" یا "پر تقاضا ولاړ وړاندیز" څه شی دی؟**

هغه شرکت چې د تحویلۍ یا نورو خدمتونو وړاندیز یا یو انفرادي وړاندیز کوي چې باید د کارګر لخوا د وړاندیز منلو وروسته په 2 ساعتونو کې پیل شي.

## دغه شرکت:

- ☐ د شبکې پر تقاضا ولاړ شرکت دی
- ☐ د کار ځای د شبکې شرکت دی
- ☐ د شبکې داسې شرکت دی چې له پورته ډولونو څخه یو هم نه وي

## د انعطاف منونکي والي حق

د اپلیکیشن پر بنسټ کارګران د دې پریکړې حق لري چې دوی څه وخت شته یا نشته دي او کوم وړاندیزونه مني/ردوي.

د شبکه یي شرکتونه د هغو کارګرانو په وړاندې ناوړه اقدام نه شي کولی چې:

- د خپل شتون ساعتونه محدودي
- زما وړاندیز مني یا ردوي
- یو وړاندیز د دلیل له مخې لغوه کوي

ناغوښتې کړه کیدای شي پر اپلیکیشن ولاړ کارګر لاسرسی محدودولو یا د کارګر غیر فعالولو په څېر وي.

## د انعام ترلاسه کولو حقونه

د اپلیکیشن پر بنسټ کارګر د دې حق لري چې د شرکت د انعام پالیسۍ په تړاو روښانه معلومات ولري.

- ایا دغه اپلیکیشن پېرودونکو ته اجازه ورکوي چې مخکې له مخکې انعام ورکړي؟
  - ☐ هو
  - ☐ نه
- ایا پېرودونکو د کار تر بشپړېدو وروسته انعام تعدیل یا لرې کولی شي؟
  - ☐ هو
  - ☐ نه
- ټول انعامونه باید د اپلیکیشن پر بنسټ کارګرو ته ورکړل شي
- انعامونه په لږ تر لږه اداینه کې نه حسابیږي.

## د مخکینیو معلوماتو لرلو حق

شبکه یي شرکتونه باید لاندي موارد چمتو یا ډاډمنه کړي چي پیرودونکي کارګر ته لاندي موارد ورکوي:

- پر بوختیا وخت او طی شویو مایلونو اټکل
- تضمین شوي لږ تر لږه اداینه
- د هر هغه انعام اندازه چي پیرودونکو ویلي وي چي ور به یي کړي
- د هغو کاروبارونو نومونه چي ورانديز پکي پایته رسیدو ته اړتیا لري
- د فزیکي کار په اړین معلومات (لکه د توکو وزن، د زینې پله)، که امکان ولري
- که امکان ولري، د انلاین فرمایشونو د ځینو نا مهر شوي محتویاتو په اړه معلومات

## د جعلي کاروني پالیسی حقونه

پر اپلیکیشن ولاړ کارګران حق لري چي د شبکه یي شرکت د جعلي کاروني پالیسی په اړه روښانه بیانیه ولري.

دا پالیسي دلته د لاسرسي وړ ده:

## د ناروغی او خوندیتوب معاش لرونکی وخت

### د اپلیکشن پر بنسټ کارګر حق لري چې:

- په سیاټل کي د هرو 30 ورځو کار کولو لپاره د ناروغی او خوندیتوب معاش لرونکي وخت یوه ورځ (Paid Sick and Safe Time) ترلاسه کړي.
- هر ورځ چي په سیاټل کي فرمایش اخیستو یا تحویلولو پکي شامل وي، پر PSST حساب کړي
- د PSST زیاتیدو، شته مقدار، کارول شوي مقدار او د PSST لپاره د اداییني نرخ میاشتني خبرتیا
- د کارول شوي PSST د هري ورځي لپاره د اوسط ورځني معاش ورته ورکول شي
- د 24 ساعتونو په زیاتوالي سره شته رخصتي واخلي
- د لاسرسي وړ سیسټم چي د PSST کارولو، پري پوهیدو او غوښتنه کولو توان ولري

### معاش لرونکی رخصت وخت د لاندي دلیلونو له مخي کارول کیدی شي:

**د ناروغی وخت:** د ځان یا کورنی غړو د روغتیایي لیدزمنو په ګډون د فزیکي یا رواني روغتیا ستونزو ته پاملرنه وکړي

**د خوندیتوب وخت:** په کورني تاوتریخوالي، جنسي تیری، تعقیب، د عامي روغتیا د چاروکو په امر د کار په بندولو پوري اړوند دلیلونه، کله چي ښوونځی یا د پاملرني ځای بند وي چي همغه کس یا د کورنی غړي اغیزمن کړي

### د معاش نه ورکولو په پار د اعتراض حق

که د اپلیکیشن پر بنسټ کارګر د غیر مجاز دلایلو لپاره PSST وکاروي، شبکه یي شرکتونه کولی شي معاش ورنه کړي. د اپلیکیشن پر بنسټ کارګران حق لري چي اعتراض او ادعا وکړي چي د معاش لرونکي ناروغی او معاش لرونکي خوندیتوب وخت کارول د یوې مجازي موخي لپاره وو.

# خپل حقونه وپېژنئ

## غچ اخیستنه منع ده

دغـه قوانین پر اپلیـکیشن ولاړ کارګران له یادو قوانینو د خوند اخیستو یـا یـې عملـي کولو په پار د غچ اخیستنې خوندي ساتي.

## د شکایت کولو حق

پر اپلیکیشن ولاړ کارګران حق لري چې د کار د معیارونو دفتر سره شـکایت یا محـکمې ته عریضه وکړي، که د شبکـې لخوا تر پوښښ لاندې نیول شوی شرکت لـه دغو قوانینو څخه سرغړونه وکړي.

## اړیکـه: د کار د معیارونو دفتر

### شبکه یي شرکتونه

تخنیکـي مرسته او/ یا روزنه ترلاسه کړئ

### د اپلیـکیشن پر بنسټ کاریګر

له OLS سره شـکایت ثبت کړئ او یا په محکمـه کې صورت دعوا پرانیزئ

**206-256-5297**

**www.seattle.gov/laborstandards**

**Seattle** Office of Labor Standards

810 THIRD AVE, SUITE 375
SEATTLE, WA 98104
ساعتونه: سـهار 8:00 - مازدیګر 4:00 (دوشنبه-جمعه)
LABORSTANDARDS@SEATTLE.GOV

د کار د معیـارونو دفتر پـه متفکرانـه ډول د ټولنې او سوداګرۍ د ګډون، د نوښتیزو پالیسیو د پلي کولو پراختیا لـه لارې او نژاد او ټولنیز عدالت تـه پـه ژمنې سره د کار د معیارونو لوړول دي.

د کار د معیارونو دفتر لیکلې ژباړه، شـفاهي ژباړه او معلولیت لرونکو اشخاصو ته یو شمېر آسـانتیاوې چمتو کوي.